ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23

OPEN ACCESS
CC BY NC

**حدیبیہ**
ایم فل اسکالر، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی مردان، خیبر پختون خواہ۔
**ڈاکٹر شکریہ قادر**
اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی مردان، خیبر پختون خواہ۔
**مس نگینہ بی بی**
لیکچرار، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی مردان، خیبر پختون خواہ۔

# پښتو ترقي پسند ادب کښې د اشرف غمگین کردار

**Hudibia***
Mphil Scholar, Department of Pashto, AWKUM, Khyber Pakhtunkhwa.
**Dr. Shukria Qadir**
Assistant Professor, Department of Pashto, AWKUM, Khyber Pakhtunkhwa.
**Miss . Nagina Bibi**
Lecturer, Department of Pashto, AWKUM, Khyber Pakhtunkhwa.
***Corresponding Author:**

## Ashraf Ghamgeen's Tragic Role in Progressive Pashto Literature

The “Hashnagar” soil is enriched in every aspect, but especially when it comes to literate, its sublimity touched the Sky. It has produced great tigers like Ai Khan, Abdul Ghani Khan, Master Abdul Karim, Dr Muhammad Azam Azam , Ashraf Maftoon, Ikram Ullah Gran Fazal e Rahim Saqi , Muflis Durrani and Abdul Akbar Khan Akbar. In addition Ashraf Ghamgeen, who is a Progressive Innovative Personality, who served his mother language through publishing a variety of Books. His poetry and prose are well balanced every aspect. His poetry subjective and just like Rainbow, whose every band is vibrant and attractive, His Poetry is brimming with Love,

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23



Humanity instruction Pashoon Wali and Romanticism.The lion share of his poetry consist progressive poetry. His Progressive poetry is intentional. I will limit my topic to his progressive aspect of poetry.

**Key Words:** *Ashraf Gamgeen , Hashtnagar , Poetry , Progressivism.*

پښتو ادب کښې هر څو کۀ ترقي پسندي نوې محسوسيږي ولې اثار پکښې د پخوا راسې موجود وو مونږ کۀ د پښتو ادب په کلاسيکي دور نظر واچوو نو د دغه دور د شاعرانو په کلامونو کښې هم ترقي پسند افکار ليدۀ شي او دغه شاعرانو اديبانو هم خپله قلمي مبارزه جاري ساتلې ده.
دلته مونږ په لنډو ټکو کښې د ترقي پسندۍ په اړه څو خبرې کوو چې د ترقي پسندۍ پېژندګلو ترې اوشي

ترقي پسندي د نړۍ په نورو ادبونو لکه انګريزي او اردو ادب کښې له وړاندې نه موجوده وه دغسې يې رو رو خپل مزل کوو چې پښتو ادب ته هم دغه اثرات راورسېدل او پښتو ادب يې متاثره کړو په کال ۱۹۱۷ ء کښې چې کله د روس انقلاب راغلو نو ټوله نړۍ يې
متاثره کړه بلکې نړۍ يې په بله واړوله هر خواته يې ماتم او تياره جوړه کړه ، لوږه تنده او بربنډي په زور او شور وه يو لوے الغاؤ تلغاؤ جوړ وۀ په روس کښې د دغه انقلاب راتلو سره ډېر په لوے شمېر خلق د لېنن او سټالن د نظريو نه اغيزمن شوي وو د سرمايا دارو او مزدورانو ترمېنځه د يو لوے نظرياتي جنګ اغاز شوے وۀ د دې وجوهاتو له کبله بيا روستو د مزدورانو کسانانو په مرسته کښې د انجمن ترقي پسند تنظيم په نوم يو تنظيم جوړ کړے شو چې په کال ۱۹۳۵ ء کښې يې بنياد کېښودے شو په دې اړه سليم راز بابا څۀ داسې ليکي

"د هندوستان اديبانو په لندن کښې په کال ۱۹۳۵ ء کښې د انجمن ترقي پسند مصنيفين بنياد کېښودو چې بيا يې وروستو د پېرس په کانګرېس

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23



کښې دغه عالمي تنظيم سره الحاق وکړو ۱۹۳۶ ء کښې د انجمن بنياد په هندوستان کښې هم کېښودې شو او بيا په ۱۹۴۷ ء کښې د برصغير د تقسيمېدو نه پس پاکستان کښې هم انجمن قائم شو "۱

دغسې دا تحريک روان وۀ دغه سوچ او نظريه پښتو ادب ته هم راورسيده چې بلها ترقي غوښتونکي شاعران اديبان يې پېدا کړل دغو ترقي غوښتونکو شاعرانو اديبانو کښې يو د هشتنغر د سپېڅلې او ادب پالې خاورې اشرف غمګين هم دی چې په کال ۱۹۴۱ ء د بهادر خان کره په پړانګو سدوخېلو نومې کلي کښې زيږيدلی دے په دې اړه اخونزاده فرمان مسافر څۀ داسې وائي:-

"دا د کلکې او مضبوطې حوصلې څښتن چې په ادبي دنيا کښې د اشرف غمګين په نوم سره پېژندلے شي په کال ۱۹۴۱ ء کښې د هشتنغر د مردم خېزې زمکې په پړانګ سدوخېل کندي کښې زېږېدلے دے د ښاغلي غمګين پلار چې ښاغلے بهادر خان نومېږي او په اخون مشهور دے ښۀ اواز لرې او خاص طور باندې چاربيتې يې وئيلے دي او د خپل دور سره سمه ده اخونانو شاعري ئې کوله "۲

په جديد ترقي پسند ادب کښې اشرف غمګين يوه جوته نامه ده موصوف

پۀ يوازې سر د پښتو ادب جولی ته دومره څۀ بخښلي کړي دي چې هم پۀ دغې سپارښتنو به تل ژوندے وي. غمګين صېب د ژوند پۀ هر مقام يوه نظرياتي او انقلابي رويه خپله کړې ده هغه د ادب يو داسې ژور سمندر دے چې په هره موقع په چپو او غورځنګونو وي. په شاعرۍ کښې ئې ګڼ رنګونه لکه سياسي، مذهبي، وطن دوستی، رومانويت او ترقي پسندي ليدې شي بيا په خصوصي توګه يې په شاعرۍ کښې د ترقي پسندۍ رنګ ډېر پوخ لېدې شي چې هم دغه د غمګين صېب د کلامونو خاصه ده څکه خو ئې نقادان د ترقي پسندو شاعرانو پۀ قطار کښې ودروي. هغوي چې په خپله

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23
ماخذ تحقیقی مجلہ

ټولنه کښې کوم طبقاتی اړے ګړے لیدلے محسوس کړے دے نو هغه ئې د خپل اوچت تخیل او ژور فکر په زور داسې پر اثر انداز کښې قلم ته سپارلے دے چې داسې موثر لیک ډېر کم خلق کؤلې شي. ښاغلي اشرف غمګین تل خپل خصوصي نظر په محتاجو غریبو، مجبورو، پرېوتو او بې یارو مددګارو خلقو باندې ساتلے دے لکه خپل یو شعر کښې وائي هم چې:

دا احساس دے پۀ فطرت کښې حل زما
پۀ پرېوتو به نظر وي تل زما " ۳

اشرف غمګین په بنیادي توګه یو لوے نظریاتي ترقي پسند شاعر دے. او بیا په پښتنه خاوره خو ډېرې شخړې، پېښې او مسئلې زېږېدلې دي. پۀ داسې حالاتو کښې اشرف غمګین د خوار نتلی او ځپلي اولس د مرستیال په توګه د هر جبر ظلم مخې ته لکه دېوال ولاړ دے ولې چې خپل نظر اوچتوي او پام کوي نو نظر ئې پۀ غریبو خلقو پرېوځي. بل خوا د مزدور پۀ غم هم ککړ دے او ورته نصیحت کوي لکه چې وائي:

وړو، بربنډو مظلومانو پاڅئ
اے د دنیا غریبانو پاڅئ
دغه اوچت انقلابي طوفان دے
دا روان دور چې د نوي شان دے
نۀ پاتې کېږي زنځیرونه زاړۀ
د غلامی دستورونه زاړۀ
دغه تعمیر شۀ درخشان د سماج
وي دا زمونږه مزدورانو به راج
جنګ اخري د ختمولو نۀ دے
وخت د مورچې د پرېښودلو نۀ دے
مونږ ته حاجت د حکیمانو نشته
د مهربانه حاکمانو نشته
خېرات غوښتونکي د سماج نۀ یُو
مونږه هرګز چا ته محتاج نۀ یُو
خزانې وباسئ د غلو ډاکوانو

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23



زړونه خپل ښاد کړئ جيالو نرانو
راشئ اوس وکړئ دا پوره اراده
فرض پوره کړئ خپل پوره په پخه
جنګ اخري د ختمولو نهٔ دے
وخت د مورچې د پرېښودلو نهٔ دے " ۴

د اشرف غمګين نظر په پښتنه ټولنه ډېر ژور دے د دوي د سخت ژوند ادراک ورته شته چې دا خلق څومره ډېر محنت او سخته مزدوري کوي. کله په خپل وطن کښې او کله په پردي وطن کښې ځکه خو وائي چې:

داسې ښائسته مستې ځوانۍ مې د وطن د زلمو
پهٔ ډېر محنت او مشقت کښې اوبهٔ کېږي ورو ورو
۵"

غمګين صېب ترقي پسند فکر لري ځکه خو د مساواتو قائل دے د بورژوازي او پرولتاريه تر مېنځ عدم مساوات ختمول غواړي د خوار غريب او بې کسو دپاره اواز پورته کوي او وائي چې:

دا تېرې تېرې کوکارې د موټرو او رېډوانو
دا مازغهٔ بوټ بوټ راوباسي د کوپړو نه د خوارانو
دا پهٔ سترګو د بې وسو سرهٔ سيخونه ور منډل دي
پېغورونه يادګېرنې پهٔ حجرو کښې د خانانو " ۶

اشرف غمګين په خپلو کلامونو کښې د ظلم جبر خلاف اواز پورته کړے دے او وائي چې حق دې هر انسان ته ورکړے شي او استحصال دې ونهٔ شي. پهٔ دې اړه د "سماج" نومې نظم نه يوه برخه ولولئ چې پهٔ دې ډول ده:

اے زما کلکو ملګرو، اے ظالم سماج وهلو
دا مو وخت د اخوت دے، دا مو وخت د حق غوښتلو

هلۍ پاڅئ تياريږئ، خپل مقام ته روانېږئ
اے بلها استحصال وشو، اے بلها نېستۍ خوړلو
نن هنګام د دوام زيرے، د نړۍ پهٔ هر يو فرد دے

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23


مور د هر یو شتمن مېره ده، پلار د هر یو پهٔ وژلو
غریبان او مزدوران چې دا طبقي یوه پره شو
ځئ چې پاڅو منظم شو، ځئ چې بیا یو مرکه شو "۷

اشرف غمګین کهٔ پهٔ غریبو، بې وسو، لاچارو او کمزورو نظر ساتلے دے نو پهٔ خپله شاعرۍ کښې ئې د خانانو (بادارو) نه هم د خپل حق غوښتنه کړې ده او وائي چې:

د سر امن دې وي دا پوښتنه وکړم
چې تهٔ ولې ورځ تر ورځه ځې سربېږې
زهٔ خو هم دا ستا پهٔ شان یو بنیادم یم
زما لره شان ګناه باندې تک چوېږې
څه چې لاړ شو د لوے خدائے پوښتنه وکړو
کهٔ ئې دواړه پهٔ تمیز یُو پېدا کړې
چې تا خدائے کړم پهٔ رښتیا دې ځان بنده کړم
بیا ستا حکم نهٔ منل مې ګناه ګار کړې
خپله خېر دے کهٔ درست کال پهٔ ارام ناست ئې
د مزدور ساه اختلل هم تا ته غر وي
مُلا بیا دې د قیامت مسئله وکړه
اے ګمراهه! پهٔ ما هره ورځ محشر وي"۸

اشرف غمګین د دې خاورې بلها انقلابونه لیدلي دي چې دا خاوره او خلق ئې ډېر متاثره کړي دي. بیا پهٔ داسې حالاتو کښې د هر چا نه زیات یې غریب، مزدور او کسان د محرومو سره مخ کړے دے. خو مزدور په بېدارۍ یې زړهٔ ښهٔ شوے دے نو په دې اړه داسې وائي چې:

راغلے انقلاب چې د مزدور او د کسان دے
خان چې په هر ځاے کښې وي نو ګډ په ویر د خان دے

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23
ماخذ تحقیقی مجلہ

دا دے د دهقان، د محنت کش او د نادار وطن
دا زمونږ په وینو دے سېراب ګل او ګلزار وطن
دا د صنوبر کاکاجي شکلے د ابشار وطن
موسکی ورته له ورایه دغه واړه کهکشان دے
خان چې په هر ځاے کښې وي نو ګډ په ویر د ځان دے
منور نشان زمونږه دے اغاز د نوي باب
دغه مو ضامن دے د سپېڅلي انقلاب
وینم هر سماج د دې په مخکښې دے بېتاب
نن پوره کېدونکي مو د زړۀ دغه ارمان دے
خان چې په هر ځاے کښې وي نو ګډ په ویر د ځان دے " ۹

اشرف غمګین د دې پښتنې خاورې په مینه مست لېونے دے. د دې خاورې په ښکلاګانو، ونو، بوټو، انسانانو او ننګیالو مئین انسان دے ځکه خو وائي چې:

د وطن پۀ نام و ننګ باندې فدا یم
هر فرعون د زمانې لره موسیٰ یم "۱۰

هغه چې په کائنات خپل ژور نظر وګرځوي او د سحر ماښام بدلېدونکي کېفیتونو ته وګورى نو دا امید یې پېدا شي چې تل به د زورورو بادارو دوران نۀ وي چې غریب به ئې د پنجو لاندې ګېر وي او ډېره زر ده چې دغه ظلمتونه به رڼا شي دغه فکر د شعر پۀ ژبه ځۀ داسې بیانوي:

سرمایه دار نظام ختمېږي درنګ ساعت په دنیا
پۀ طاقتونو نۀ ټینګېږي وړې د وخت یې هوا
اوس بندیوان به ازادیږي د سامراج له بنده
د انقلاب چغه پېدا شوله د نوي ژونده
درله کېږي کنده د سامراج نظامه" ۱۱

اشرف غمګین په دې ټولنه کښې یو داسې پُر امن ماحول غواړي چې د خوارانو حق تلفي دې ونۀ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23
ماخذ تحقیقی مجلہ

شي. د چا سره دي ظلم، جبر او بې انصافي ونۀ شي. پۀ غريبو مظلومو او بې وسو دي ظلم ونۀ شي. پـه دې اړه څۀ داسي وائـي:

دي د وخت محدود ائين کښې د خوارانو حق تلفي ده
کۀ د زړۀ پـه سترګو ګورې سراسر بې انصافي ده
مظلومانو سره ظلم د دنيا پـه هر يو ګُټ کښې
يو مصرعه زما وئيل پرې انقلاب لره کافي ده " ۱۲

اشرف غمګين چې د دې حالاتو نـه مايوسه او زړۀ ستړے شوے دے د ډېرو هڅو او زيارونو باجود چې يې د خپل فکر پـه ليتکي د ظلمت تيارۀ پـه خپل ژوند کښې پـه رڼا کېدو ونۀ ليدله نو وئيلے ئې دي چې:

مال دولت د څو مخصوصو انسانانو
پۀ قبضه کښې دي، څۀ واک اختيار مو نشته
يو سندره د فکرونو د خيالونو
وايم دې نه علاوه راسره څۀ شته " ۱۳

اشرف غمګين پـه خپله شاعرى کښې د حق وېنا کړې ده بې وېرې يې کړې ده بې ترهې يې کړې ده د مظلوم مرسته او د ظالم مرسته يې پـه جار کړې ده او دغه حق ګوئي ئې پـه کلامونو کښې د ترقي پسند افکارو نمائندګي کوي لکه چې وائي:

پـه والله کۀ مې څوک يو قدم کړي وروستو
د منزل پـه پوله څـم لکه ابشار
زۀ خبر يمه د وخت پوره سازش دے
خو همېش وي تکليفات د حق پـه لار
د مزدور د وږي خېټې حال بـه وايم
کميونسټ کـۀ مې څوک بولي کـۀ غدار
د ګلونو دي خوشبو تـه راز معلوم دے
پـه ايمان چې ورته غل او ساز معلوم دے
د دوران د جېلخانو د تکليفونو
څۀ پروا لري پۀ ميو مست خيام

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23

زۀ پۀ مینه کښې د حق هسې سرشار یم
لکه خاندې چې اشنا راته پۀ بام
نن سپرلے دے هلته زر مې دار ته بیائي
خو دا نۀ دے د ګناه مې اختتام
وخت به خپله فېصله کوي، استاذ دے
خو د غمه ډک د ژوند د رباب ساز دے
بې ګناه کۀ مې دوران مجرم ثابت کړي
د سقراط سره دې شوے پۀ یونان کښې
زۀ پۀ خپله ګناه پوې یم، مقدس ده
خو پۀ زړۀ کښې څۀ خلل دے د اسمان کښې
خېر دے دا د غلامۍ ساعت به سر شي
اے غمګینه! کۀ دا نن پروت ئې زندان کښې " ۱۴

اشرف غمګین د خپل قام دپاره بې شانه فکرمند دے او هغه زلمو ځوانانو ته ګوري چې ځوانی یې زړې شوې خو پۀ خپله سیمه او وطن یې خپلواکي نصیب نۀ شوه. هغوي د دې سرمایه دارو خلقو د خېټو ډکولو او پلنولو دپاره ژوند وکړو او ټول ټول عمر یې د غټو خلقو چاکري وکړه. پۀ دې اړه موصوف څۀ داسې وائي:

ځوانی زړیږي پکښې یو خوا د روزګار پۀ تکل
مالداران وګوره چې ورځ تر ورځه خېژي پورته
د چا شاعر د لالچي صفت کولے نۀ شي
دا صفتونه چې پکښې چا ته لیدلے نۀ شي
ملګرو! دا زمونږ وطن پۀ نوم پاتې دے
پکښې چې پاتې جاګیردار زمونږ دشمن پاتې دے
" ۱۵

اشرف غمګین حقیقي ترقي پسند او انسان دوسته شاعر دے پۀ خپله شاعرۍ کښې د هر انسان یو شان حق غوښتونکے دے او کلهم انسانیت ته دا درس ورکوي داسې هم نۀ وائي چې اختیار دې غریب له ورکړے شي او سبا له دې بیا دې بورژوازے جوړ شي او پۀ نورو پرولتاریو دې هم هغه شان ظلم زور کوي لکه څنګه چې اول پۀ دۀ کېدلو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23


بلکې غریب کسان دې د اختیار حاصلولو نه پس په ټولنه کښې مساوات راولي څکه خو وائي:

سړے هله ښهٔ سړے بلل هله شي
چې ئې لاس د تشه لاسه صدقه شي
سړیتوب خو د سړي ډول سینګار دے
حادثات د زماني کهٔ یو پهٔ دوه شي
دغه هر څهٔ پختګي د سړي مستی وي
چې شپه دم شي خوارهٔ هله دقیقې وي
چې صابر نهٔ وي هیچرے حسېن نهٔ دے
حسېن هله چې د صبر لوے معراج وي
امام هغه رهبر هغه د خوارانو
چې پهٔ سر ئې د تېرو ازغیو تاج وي
چې د شپې ورځې پرې خوب خندا حرام وي
لېونتوب ئې بې قرار لکه چنام وي
چې سودا ئې د وحشت نه ور سېوا وي
چې خپل سر ئې پهٔ خوارانو ور فدا وي
چې خالص لکه د مینې چې بس جوړ وي
چې ریا لکه سپوږمۍ سپینه رڼا وي
چې منصور غوندې پهٔ دار شي یا سنګسار شي
پهٔ دنیا کښې هله پاتې ئې یادګار شي
د نرګسو پهٔ نازکه خوشبوئۍ کښې
پهٔ رڼا د ځوارلسمې پهٔ سپوږمۍ کښې
برېښ د پرخې هم د ستورو پهٔ ځلا کښې
پهٔ زړو کښې د طوفان پهٔ بړبوکۍ کښې
ظلم ظلم دے چاپېره پهٔ نړۍ کښې
جبر جبر دے هر خوا ته پهٔ دې سرائۍ کښې
دا رموز د ادمیت دے کهٔ پوهېږې
د انسان انسانیت دے کهٔ پوهېږې "
۱۶

اشرف غمګین کهٔ پهٔ خپله شاعرۍ کښې تل د غریبو او بې وسو غم ژړلے دے نو بل خوا ته ئې هم دغې غریبو او د پرېوتو طبقو خلقو کښې د بېدارۍ د احساس د پېدا کؤلو هڅې هم کړې دې او د سختو د برداشت کؤلو نه پس یې ورته د روڼ سبا زېرے هم ورکړے دے او ورته یې وئیلي دي چې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23



ستاسو دغه سختي او تکليفونه به يوه ورځ تاسو د تيارو نه رڼا ته بيائي خو کۀ چرې تاسو د خپل کاروان لاره پرې نۀ ښودله لکه چې وائي:

بل خوا مۀ زغله ملګرے د کاروان شه
اوس خو ويښ شه د منزل په لور روان شه
دا اسمان به په تا ځو د پاسه ګرځي
د اسمان د پاسه پورته بل اسمان شه
نوم پېدا کړه نوم دې وکړه دا دې وخت دے
د حالاتو په تيارو کښې چراغان شه
قامه! خپل زبون حالت ته نظر وکړه
وايه حق د باچا خان هسې ګويان شه
متل کېږي چې وړومبے د ورستي پل دے
مهار ونيسه په مخکښې د کاروان شه
شابه زر کړه د عمل مېدان ته وځه
په خوبونو د غفلت دې نور ستومان شه
داسې چغې به غمګين ووهي ډېرې
خو خوشحاله به پرې خدائے خبر طوفان شه "۱۷

اشرف غمګين په حقه غمګين وۀ ځکه چې دې کنډر او تس نس شوي چاپېرچل ته ئې کتل چې په هر لوري حالاتو اور ورولو نو ظاهره ده چې غمژن به وۀ. بيا شاعر اديب هسې هم د ټولنې د نورو وګړو په نسبت زيات حساس او د ويښ ضمير خاوند وي. په وړه خبره د زړۀ وينې څښي. بيا چې دغه وينې وينې ماحول ته ئې کتلي دي نو د قلم په ژبه ګويا شوے دے او د دغې حالاتو او سرمايه دارانه نظام نه مايوسه شوے دے نو د ترقئ غوښتنه ئې کړې ده. پۀ دغه لړ کښې ئې پۀ غريبو کمزورو لاچارو مزدورو انسانانو او پۀ انسانيت خصوصي نظر وۀ چې هم دغه توکو ئې شاعرئ ته ښکلا ور بخښلې ده. دغه ډول کومې نمونې چې د موضوع مطابق پوره او کره وې هغه مونږ پورته د نمونې پۀ توګه پېش کړې چې د اشرف غمګين د ترقي پسندو افکارو نمائندګي کوي.

حوالې

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 3, (July to Sep 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-III)urdu-23

١ طاهر بونيري سره د راز بابا مركه ، ستمبر ١٩٩۶ ء
٢ فرمان مسافر ، اخونزاده ، ځلنده ستوري ، حميديه پرېس پېښور ، چاپ كال ١٩٨۴ ، مخ ١٣٣
٣ اشرف غمګين، نمر د پلوشو سره كليات، مركه خپرندويه ټولنه مردان، چاپ كال ستمبر ٢٠١٨ء، مخ ٢١
۴ هم دغه اثر، مخ ٢۵-٢۴
۵ هم دغه اثر، مخ ٣٠
۶ هم دغه اثر، مخ ٣۵
٧ هم دغه اثر، مخ ۴۴
٨ هم دغه اثر، مخ ۵٢
٩ هم دغه اثر، مخ ۵٨
١٠ هم دغه اثر، مخ ۶٨
١١ هم دغه اثر، مخ ٧٩
١٢ هم دغه اثر، مخ ٩٢
١٣ هم دغه اثر، مخ ٩٣
١۴ هم دغه اثر، مخ ١۵۵
١۵ هم دغه اثر، مخ ١۶١
١۶ هم دغه اثر، مخ ٢٢٠
١٧ هم دغه اثر، مخ ٢٢٩